# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد　　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　　از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com　　　afgazad@gmail.com


| حقوق بشر | Human Rights |
|---|---|



نظرمحمد مطمئن

۳۰ جولای ۲۰۱۷

## د ښووڼځي وروستۍ ازموینه یې په قبر کې ورکړه



**شهید سمیع الله جان**

هره ورځ، هره اونۍ، هره میاشت او هر کال بوږنونکي، دردونکي او خواشینونکي د افغانانو د مرګ او ژوبلې خبرونه اورو، ژوند مو په ځګرو کې دی، په ځګرو کې مو ماشومتوب، ځواني او د ځینو سپین ژر توب تیر شو.

ژوند ستړی دی، کورنۍ ستړي دي، ماشومان د ګل په څیر مړاوي دي.

تیره اونۍ، د سمیع الله جان د دولسم ټولګي د څلورنیم میاشتو د ازموینو وروستۍ ورځ وه، دوی دوه ورونه وو، تر ده یې مشر حیات الله جان هم په دولسم ټولګي کې و.

د شپې مهال د دوی د کلي (عبدالرحیم کلي) سره نږدې د افغان ځواکونو پر پوسته د طالبانو لخوا برید شوي وو، شپه ځګړه شوې وه، او په لاره کې طالبانو ماینونه ښخ کړي وو تر څو د افغان ځواکونو له پوستې څخه وتل او پر سړک ګرځیدو مخه یې نیولې وي.

د روسانو سره د جهاد پر مهال د مجاهدینو وخت ښه وو، که به کوم ځای کې مجاهدینو روسانو او یا د هغه وخت روس پلوه عسکرو ته ماینونه ښخ کړي وو،هلته به یې د ښخ شوي ماین سیمه څارله، که به کوم کلیوال او یا ملکي کس ، بایسکل، موټرسایکل او یا موټر ورنږدې شو، هغه څارونکي مجاهد به هغوی ته د خطر خبر ورکاوو، او له ماین څخه به یې دهغوی لاره بل لورته ښودله.

اوس د ماین په ښخولو کې له بې احتیاطي څخه کار اخیستل کیږي، او د ښخ شوي ماین ساحه هم د ښخوونکو لخوا نه څارل کیږي، چې د بې پروایي له امله ډیر وخت ملکي افغانان د ماین قرباني کیږي.

بهرني ځواکونه، افغان حکومت او د ماین کښلو ازادې اداری هم د د ومره ډیرو ماینو د خنثی کولو / له منځه وړلو کې پاتې راغلي، او یا خو د ښخ شوو ماینو سیمو ته د خطر له امله ورتګ نه شي کولای.

د سميع الله جان او حيات الله جان د دولسم ټولګي د څلورنيم مياشتو ازموينه نوره خلاصه وه، د پنج شنبي سهار (۲۰ جولای ۲۰۱۷) يې د سپورټ ازموينه وه، چې ډېر وخت استادان پرته له ازموينې او حاضر کيدو هم په کليو او نا امنه سيمو کي زده کوونکو ته نمرې ورکوي، د سميع الله جان د اول نمره کيدو سيالی وه، له دي امله يې ټينګار کاوو چې بايد د اندړو ولسوالی د سلطان شهاب الدين غوري ليسي کي وروستۍ ازموينې ته حاضر شي، ځکه هغه د ليسي عمومي اول نمره او ممتاز زده کوونکی و.

سميع الله جان او ورور يې حيات الله جان په بايسکل سهار مهال له کوره راووتل، د ولسوالی په لور د کلي پر عمومي سړک روان و، دوی دواړو خبرې کولې، څنګ پر څنګ روان وو، په ازموينې کې د ښو نمبرو، او له دولسم ټولګي فارغ کيدو، د کانکور لپاره د چمتووالي په اړه يې خپلو منځو کي په مينه او محبت خبرې کولې.

۲۱ کلن حيات الله جان مخکي له دي چې په ښخ شوې ماين يې بايسکل وخيږي، د ماين ښه يې په عمومي سړک تر سترګو شوه، خو چې تر څو يې په خپل ۱۸ کلن ورور سميع الله جان ږغ کاوو، د هغه بايسکل پر ماين ور وخوت.

انا لله وانا اليه راجعون

په ازموينه کې د اول نمره ګی هيلې يې همدلته مړې شوې، د سپورټ امتحان يې پاتي شو، په قبر کې يې دا ځل د ملايکو په وړاندې‌امتحان ورکاوو، هغه خپله روح الله ج ته تسليم کړه، کيدای شي سميع الله ج به الله ج ته شکايت کړی وي چې ولي مسلمانان د ماين ښخولو کې دومره بې پروايي کوي.

حيات الله ج بې هوښه و، هغه چې په روغتون کې په هوښ راغی، د خپل ګران کشر ورور پوښتنه يې کوله، د خپل ځان د زخمونو درد يې هير وو، ويل يې زما ګران ورور، زما کشر ورور، زما مينه ناک وروره سميع الله جان ته مې ورولئ، هغه څه شو؟ په هغه څه وشول؟ هغه چا شهيد کړ؟ ولي او په کومه ګناه يې شهيد کړ؟

د حيات الله تره چې د هغه د سترګو عمليات يې کړی وو، له سترګو يې ځاځکي ځاځکي اوښکي رواني وي، هيڅ يې ونه ويل، يواځې په زړه کې به يې ويل چې جګړې به زموږ ډيری ځوانان ځوانيمرګ کړي.

حيات الله د سترګو له عمليات وروسته هم څه نه ليدل، خو د خپلو سترګو غم يې کم، ولي د شهيد ورور غم يې لا هم ځوروي.

اوس يې سترګو ديد بيره لږ پيداکړی، خو په کومه ليوالتيا به د دولسم ټولګي کلنۍ ازموينه ورکړي، او په کومه ليوالتيا به د کانکور لپاره چمتووالی ونيسي.

هغه به هره شپه خپل ۱۸ کلن شهيد ورور په خوب ويني، دوی به په لاره ښوونځي ته روان وي، خو بيا بيا به ورباندې ماين انفجار کوي، بيا او بيا به حيات الله ج د خپل کشر ورور شهادت ځوروي.

د سميع الله جان مورکی يې د هغه د ټوټه ټوټه شوي بايسکل زيارت هر سهارکوي، د هغه د کتابونه بستی راواخلي، کله يې کتابچې او کله کتابونه ګوري، ورته ژاړي، د سميع الله جان خويندې يې چوپه خوله د مور ګرد چاپيره ولاړې وي.

د سميع الله جان په قبر ولاړې جنډې د دوی د کلي د ښوونځي هر زده کوونکي ته په چوپه خوله وايي چې په سړک د تګ پر مهال مو پام وي چې باسيکل مو په ماين ور برابر نه شي، او ازموينه درڅخه پاتي نه شي.

يا الله ! هيواد ته مو سوله راولي، يا الله زموږ له هيواده جګړې وباسي، يا الله زموږ مظلوم ولس نور د معامله کوونکو سياستوالو له ګرو څخه خلاص او په هيواد کې افغان شموله نظام راولي. آمين